نظر محمد مطمئن

۲۰۱۳/۱۰/۳۱

# سید حامد ګیلاني څه شي په غوسه کړی؟!!

همدغسي خلکو ته همدغسي پاچا په کار دی لکه ښاغلی کرزی، په کابل کې دننه ټول سیاسي چنه وهونکي ګوندونه او کسان یې دولتي کلونه په ډول ډول تمو وساتل، کله یوه ډله ځان ته نږدې کړی بلې ته امتیازات کم کړي، سیاسي څیرې کله په یو نوم او کله په بل نوم کاروي.

سید حامد ګیلاني ښاغلي ولسمشر کرزي د ۲۰۰۹ کال له درغلیو ډکو ولسمشریزو ټاکنو له ګټلو وروسته د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت ته ونوماوه، هغه د ولسي جرګي له خوا د ۱۴۹ مخالفو او ۷۰ موافقو رایو سره دغه وزارت ته لار پیدانه کړه.

ښاغلی سید حامد ګیلاني د مشرانو جرګي په تیره دوره کي د حضرت صبغت الله مجددي لومړی نایب وو، او دا ډول د محاذ ملي اسلامي ګوند له مهمو او مشهورو څیرو څخه ګڼل کیږي

پیر سید احمد ګیلاني چي اوس یې عمر ډیر دی، دهغه د نوم پرځای د دغي کورنۍ څخه د سیداسحاق ګیلاني چي د پیرصاحب وراره دی او سید حامد ګیلاني چي د پیرصاحب ځوی دی نومونه ډیر اوریدل کیږي، او د پیرصاحب کورنۍ په تیرو دولتي کلونو کي د حکومت لویه سیاسي ونډه له ځان سره درلودله.

فاطمه ګیلاني چي د سرې میاشتي مشره ده، دپیرصاحب لور او دا ډول انوارالحق احدي چي پخوا د مالیي وزیر وو،لنډ وخت مخکي د سوداګري وزیر وو، اوس ۲۰۱۴ ولمشریزو ټاکنو ته نوماند وو، خو نوم یې له ابتدایي لسټ څخه ایستل شوی، د پیرصاحب زوم دی.

د افغانستان او امریکا ترمنځ د امنیتي او دفاعي تړون له پاره د مشورتي لویي جرګي مشر صبغت الله مجددي وټاکل شو، په خپله لومړنی ناسته کي یي نعمت الله شهراني او سید حامد ګیلاني د مشورتي لویي جرګي مرستیالان وټاکل.

دا ډول د مشورتي لویي جرګي په لومړی ناسته د تلي ۲۷مه ۱۳۹۲ کي ښاغلي حضرت صبغت الله مجددی د دغي جرګي راغوښتل د وخت ضیاع او بې ځایه مالي لګښت وباله، ویي ویل چي زه مجبوره شوی یم چي دمشورتي لویي جرګي مشرتوب ومنم، او ما په دي اړه ډیرې هڅي وکړي چي دي جرګي ته اړتیا نشته، خو د فشارونو له امله مي د جرګي مشرتوب ته غاړه کیښوده، حضرت صبغت الله مجددی وویل چي د امریکا سره دامنیت مسئله د تیري دودیزې لویي جرګي په وخت کي فیصله شوي او منل شوي، که حکومت له امریکا سره خپلمنځي ستونزه لري هغه دي دوی سره حل کړي.

د لړم پر ۶مه ۱۳۹۲ سید حامد ګیلاني یو ناڅاپه ۱۰ ورځي وروسته له دي چي د مشورتي جرګي مرستیال وټاکل شو اعلان وکه چي زه په مشورتي لویه جرګه کي ګډون نه کوم، او نه هم مشورتي لویې جرګي ته اړتیا شته، مخکي دودیزې لویې جرګي فیصله کړې، دا ډول د مشورتي لویي جرګي راغوښتل د پارلمان په صلاحیتونو کي لاسوهنه ده، د امریکا او افغانستان د امنیتي او دفاعي تړون د قضایي مصؤنیت موضوع مخکي حل شوي او دغه قرارداد باید دپارلمان له خوا ومنل او تاید شي.

سوال دادی چي ولي لس ورځي وروسته ښاغلی حامد ګیلاني اعلان کوي؟ آیا هغه مخکي نه پوهیدی چي د مشورتي لویي جرګي راغوښتل هسي د افغان ولس او نړیوالو په سترګو کي خاورې شیندل او غولول دی؟

دري میاشتي مخکي لا ښاغلي کرزي صاحب له سیدحامد ګیلانی سره وعده کړي وه چي د بهرنیو چارو وزیر زلمی رسول ولسمشریزو ټاکنو ته درېږي او پرځای به یې تاسي د بهرنیو چارو وزیر وټاکل شئ.

په همدې تمه او خیالی تصور کي یې شپې او ورځي سبا کولي، او د دی له پاره یې ورځي شمارلي چي وخت ژر لنډ شي او تیر شي چي زلمی رسول له وزارت څخه استعفاء وکړي او زه وزیرشم، خپل عمر ته یې هم پام نه وو چي که وخت ژر ژر تیریږي نو عمر هم خوړل کیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کله چي سيد اسحق ګيلاني د لږم پر شپږمه مخکې د وزيرانو له اعلان څخه خبر شوی وو، سمدستي يې په هيجاني او احساساتي ډول ميډيا راوغوښته او د مشورتي لويې جرګې جوړول يې رد کړل، ويې ويل چي په لويه جرګه کې به ګډون ونه کړم.
هغه د قاضي او دوه دعوه لرونکو مشهوره کيسه پرې وشوه چي لنګوټه غوا وخوړله، د دوه کسانو دعوه وه، يوه يې قاضي ته قيمتي لنګوټه ورکړه چي دعوه دهغه په ګټه تمامه شي، دوهم يې چي خبر شو، قاضي ته يې غوا ورکړه، د پريکړه په وخت کې قاضي فيصله د غوا ورکوونکي په ګټه وکړه، هغه اولني نفر قاضي ته وويل چي هغه لنګوټه څه شوه (يعني ما لنګوټه درکړي وه تاسي وعده کړي وه چي پريکړه به زما په ګټه کيږي)، قاضي ورته وويل چي لنګوټه غوا وخوړله.
په راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو کې پيرسيداحمد ګيلاني او د ده کورنی د کرزي صاحب په خوښه د زلمي رسول څخه خپل ملاتړ ښکاره کړی وو، ولي کرزی صاحب هم چني وهي.
عبدالله عبدالله د لږم پر ۵مه له ښاغلي کرزي صاحب سره وليدل او په راتلونکو انتخباتو او د واک په وېش يې خبرې وکړي، که انتخبات کيږي او هرڅوک وړونکي وي، بيا هم واک به سره وېشي، او که انتخبات لغوه کيږي هم به په خپلو منځونو کي واک سره ويشي، فکر کوم چي د همدې ليدني په وخت او يا هم مخکي لا د مارشال قسيم فهيم له خوا ښاغلي کرزي ته وعده ورکول شوي ده چي واک به څخوو او قدرت به خپلو منځونو کي سره شريک کوو، داچي شمالي ټلواله نظر محاذ ملي ته قوي ده نو د سيدحامد ګيلاني وزارت هم ضرار احمد مقبل وخوړی.
اسلامي حزب (کابل) د ارغنيدوال په مشري له عبدالله عبدالله سره د يوځای کيدو پريکړه د دغه ګوند اجرائيه شورا په غوڅ اکثريت وکړه چي دوو نفرو يې مخالفت وکړی، جمعه خان همدرد د پکتيا والي او حاجي محمد اکبر بارکزی د فوايد عامي وزارت مالي او اداري مرستيال.
داچي داسلامي حزب ارغنديوال ګوند نور هم کمزوری شي، ښاغلی ولسمشر هڅه کوی چي دغه دوه مهمي او قوي څيري د ځان کړي او په راتلونکي وخت کې يې په سياسي واک کې د خپل ځان په ګټه وکاروي.
عارف خان نورزي هم غوښتل چي د ۲۰۱۴ ولسمشريزو ټاکنو ته ځا ونوموي، له پرله پسي غونډو او ناستو، عارف خان نورزي ومنله چي له خپلی نوماندې څخه تير شي، خو ګل آغا شيرزي ونه منله، همدا لامل وو چي ښاغلی عارف خان نورزی د اوبو او بريښنا وزارت مستحق وګرځيدی.
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ